<u>مطبوعاتي غبرگون</u>

# حزب التحرير وير نه کوي، بلکې د کړو کړښو پر مخ مستقیمه کړښه کاږي

گران ورور، محمد عبدالله یعقوب!

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته،

د ۱۴۴۱ هـ.ق کال، د شعبان ۲۱مه، چې د ۲۰۲۰م کال، د اپرېل له ۴مې سره سمون خوري، ستاسو د لیکلي کالم (صفر الخوالي) د هغې مقالي په ځواب کې چې سرلیک یې و: «ابو خلیل په جنازه کې د ډوډۍ ویر اخیستی»، موږ وایو:

**لومړی:** موږ د حزب التحریر- ولایه سوډان د هغې مطبوعاتي اعلامیې د خپرېدلو له امله له تاسو څخه مننه کوو چې سرلیک یې و «د بې ساه رژیم له امله انتقالي حکومت د ډودۍ بیه دوه برابره کړه او د GAHT منافقت هېڅ ډول ډاډ نشته»، په داسې

حال کې چې دا د خلکو د معیشت اړوند یوه حیاتي موضوع ده، خو د خرطوم ډېرو ورځپاڼو دا له پامه غورځولې ده!

**دویم:** ایا له حزب التحریر پرته بل څوک د اسلامي نړۍ د امت د ایډیالوژۍ د بیا احیا لپاره داسې روښانه او رڼه پروژه لري؟ کله چې د نبوت پر منهج د راشده خلافت تر سیوري لاندې اسلام په بشپړه توګه حاکم شي؛ څوک د دې ستر امت او غوره ملت چې د بشریت لپاره راوړل شوی دی، مسوولیت پر غاړه اخیستلای شي؟!

**[وَقُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا]**

**ژباړه:** *«او اعلان وکړه چې حق راغی او باطل له منځه لاړ، باطل له منځه تلونکی دی.» [اسرأ: ۸۱]*

زموږ د کولنګ ربښتیني حقیقت دا دی، چې اسلامي دولت جوړ او باطل دولتونه ړنګ کړي. د جوړولو کولنګ هماغه د ړنګولو کولنګ هم دی، هغه دولتونه چې د کفر تګلارې څاري او زموږ لپاره ښه نیت نه لري، نو له دوی څخه موږ کومه تمه ولرو؟

**[مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَلَا الْمُشْرِكِينَ أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِنْ خَيْرٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ]**

**ژباړه:** *«هغو خلکو چې د حق د بلنې له منلو څخه يې انکار کړی، که له اهل کتابو څخه وي، که مشرکان وي، هېڅکله دا نه خوښوي چې ستاسې د رب له خوا دې تاسو ته څه ښېګڼه راشي، خو د الله سبحانه و تعالی چې هر چا ته خوښه شي، د خپل رحمت لپاره يې غوره کوي او هغه د لوی فضل څښتن دی.»*

*[البقره: ۱۰۵]*

**درېيم:** د اسلامي او عربي نړۍ له حقيقت سره سم د دې خبرې په توګه چې د خلافت راګرځېدل به ډېر وخت ونيسي او داسې نور؛ موږ وايو، هېڅوک نه پوهېږي چې خلافت به څه وخت راپورته کېږي، خو موږ ډاډه يو چې راپورته کېږي به؛ ځکه دا د الله سبحانه و تعالی ژمنه ده چې وايي:

**[وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ]**

**ژباړه:** *« الله سبحانه وتعالى ستاسو له هغو كسانو سره چې ايمان يې راوړى او نېه عملونه وکړي، ژمنه کړې ده چې هغوى په ځمکه کې هماغه ډول خليفه ګان وګرځوي، لکه چې له هغو څخه مخکې تېر شوي خلک يې چې ګرځولي وو. د هغوى لپاره به هغه دين پر محکمو بنسټونو ودروي چې الله سبحانه و تعالى ورته خوښ کړى دى. د هغو د وېرې (اوسنى) حالت به په امن ورته بدل کړي. هغوى د زما بندګي کوي او زما سره دې کوم شى نه شريکوي. څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همداسې کسان فاسقان دي.» [نور: ۵۵]*

او ځکه چې دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم زيرى هم دى:

**«ثُمَّ تَكُونُ خِلاَفَةٌ عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ»**

**ژباړه:** *«بیرته به د رسول لله صلی الله علیه وسلم پر منهج خلافت وي»*

او الله سبحانه وتعالی به ستاسو څخه د پایلې نه، بلکې عمل پوښتنه کوي، دا واجب دی چې باید تاسیس شي، په دې اړه بې غوري لویه گناه ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

**«وَمَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ، مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً»**

**ژباړه:** *«هر هغه څوک چې پر غاړه یې بیعت نه وي او مړ شي، هغه د جاهلیت په مرگ مړ شوی دی»*

موږ حزب التحریر باور لرو چې د خلافت وخت رارسېدلی، خو داسې کسانو ته اړتیا لري چې هغه تاسیس کړي، موږ هیله لرو چې تاسو به یو له هغو کسانو څخه وی چې د خلافت د تاسیس لپاره کار کوي، حتی که هغه د یوې کلمې ماتېدل هم وي.

**په پایله کې:** زما ګران وروره، موږ نه ویر کوو او نه هم ژاړو، بلکې موږ د کړو کړنو پر مخ مستقیمه کړنه کاږو.

**ابراهیم عثمان (ابو خلیل)**

**د حزب التحریر- ولایه سوډان رسمي ویاند**

**۱۴۴۱هـ.ق کال، د شعبان ۲۲مه**

**۲۰۲۰م کال، د اپرېل ۱۵مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۴۵**